قرآني بیان

# قرآن

## بې مثاله کتاب دے

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)

لاندې جوماتونو د پاره

**1-August-2025**

د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ يکم اګست، کال 2025ء (متوقع اسلامی تاریخ 6 صفر شریف، 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

# قرآن بې مثاله کتاب دے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- .... غير مسلمو ته چيلنج
- .... قرآن نعتِ مصطفے دے
- .... د قرآن د حق کيدلو ګواهئ
- .... د قرآنِ کريم يو څو اَهَم خصوصيات

پيشکش

اَلْـمَـدِيْـنَـةُ الْعِـلْـمِـيَـة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback* :+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

خوږ مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې په ما باندې سحر او ماښام 10، 10 ځله درودِ پاک اولولي، هغهٔ ته به په ورځ د قيامت زما شفاعت ميلاويږي.[(1)]

| | |
|---|---|
| ہم ہی جائیں گے خُلد میں سب سے پہلے | نبی کے ہیں ہم اور جنت نبی کی |
| بنائے گئے ہم شفاعت کی خاطر | ہمارے لیے ہے شفاعت نبی کی[(2)] |

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡاٰنِ الۡكَرِيۡم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَاِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلٰى عَبۡدِنَا فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَةٍ مِّنۡ مِّثۡلِهٖ ۖ وَادۡعُوۡا

شُهَدَآءَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلُوۡا وَلَنۡ تَفۡعَلُوۡا

فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِىۡ وَقُوۡدُهَا النَّاسُ وَالۡحِجَارَةُ ۖۚ اُعِدَّتۡ لِلۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۴﴾

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِيُّ الۡكَرِيۡم صلى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

---

1...الترغیب والترھیب، کتاب النوافل، الترغیب فی آیات القرآن...الخ، صفحہ:223، حدیث:29۔

2...قبالۂ بخشش، صفحہ:313.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه د پاره: 1، سُوْرَۃُبَقَرَہ، آيت: 23 او 24 اوريدلو سعادت حاصل کړو، د سُوْرَۃُبَقَرَہ په ابتدائي آيتونو کښې ارشاد شوے دے:

| | |
|---|---|
| ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَیْبَ ۛۚ فِیْهِ ۛۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِیْنَ ۙ﴿۲﴾ (پارہ:1،البقرۃ:2) | تَرجَمه کَنْزُ الْعِرْفان: هٰغه لويه مرتبه لرونکے کتاب چې د هيڅ شک ګنجائش پکښې نشته. په دې کښې د ويريدونکو [پرهيزګارو] د پاره هدايت دے. |

دا د قرآنِ کريم 2 اَهَم او بنيادي صِفَات دي: (1): قرآن لَارَیْب کِتَاب دے (2): قرآنِ کريم د هدايت کتاب دے.

د دې نه پس يعنې د سُوْرَۃُبَقَرَہ د آيت 2 نه واخله تر آيت نمبر 20 پورې په تفصيل سره د قرآنِ کريم د هدايت کتاب کيدلو واضِح بيان دے، هٰغه څوک دے چې دا کلامِ مجيد اولولي او هدايت قبول کړي او هغه څوک بدبخته دي چې د دې هدايت والا کتاب په لوستلو يا اوريدلو هم د هدايت په لار نه راځي، دا هم په تفصيل سره بيان کړے شوي دي، مثلاً دا وئيلے شوي دي چې اَهلِ تقویٰ د کومو په زړونو کښې چې د هدايت قبلولو صلاحيت موجود وي، څوک چې ضِدي نه وي، منونکے طبيعت لري، هغوئي هدايت قبلوي خو کافِر او مُنَافق د کومو په فطرت کښې چې ضِد او بې انصافي وي، کوم چې ازلي بدبخته وي، هغوئي هدايت نۀ قبلوي.

اوس دلته يعنې د آيت 23 او 24 نه د قرآنِ کريم د لَارَیْب کِتَاب کيدل بيانيږي.

## غير مسلمو ته چيلنج

اَلْحَمْدُلِلّٰه! قرآنِ کريم لاريب کِتَاب دے، په دې کښې هيڅ شک او شُبه نشته خو غير مسلمو به د خپل ضد په وجه په دې باندې اعتراضونه کول، د قرآنِ کريم په باره کښې د کفارِ مکه

او نورو غير مسلمو بنيادي نظريه دا وه چې دا کِتَاب د **اللّٰه** پاک له طرفه نهٔ دے نازل شوے. د هغوئي نه به چې تپوس وشو چې که دا د **اللّٰه** پاک کلام نهٔ دے نو بيا څه دے؟ د دې سوال هيڅ واضِحه جواب ېخپله د هُغو غير مسلمو سره هم نهٔ وو، په دې باره کښې به هغوئي مختلفې حيلې بهانې جوړولې مثلًا: ❁ چا به وئيل: دا شاعِري ده❁ چا به وئيل: دا د نجوميانو او کاهنانو خبرې دي ❁ چا به وئيل: دا جادو دے❁ چا به وئيل چې **مُحَمّد** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا کلام ېخپله جوړ کړے دے يا يـې په بل چا جوړ کړے دے.

غرض دا چې څومره خُلې هومره خبرې وې، خو يو غير مُسلِمه هُم په واضِحه توګه دا نهٔ شو ثابتولے چې که دا کِتَاب د **اللّٰه** پاک کلام نهٔ دے نو بيا څه دے.

**اللّٰه** پاک د دغه غير مسلمو د ټولو شکونو او شبهاتو او فضولو الزامونو صرف يو جواب ورکړو، او ويـې فرمائيل:

وَ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪

**تَرجَمه کَنزُالْعِرْفان:** او که ستاسو د دې کتاب په باره کښې څه شک وي کوم چې مونږ په خپل خاص بنده باندې نازل کړے دے

يعنې که تاسو ته شک دے چې دا قرآنِ کريم د **اللّٰه** پاک کلام نهٔ دے نو بيا يو کار اوکړئ!

فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪

**تَرجَمه کَنزُالْعِرْفان:** نو تاسو د دې په شان يو سورت راوړئ

يعنې اے غير مسلمو! ❁ تاسو هم انسانان يـئ، زمونږه **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم انسان دے ❁تاسو هم عرب يـئ، دوئي هم عربي دے❁ تاسو هم د دې ملک اوسيدونکي يـئ، چرته چې دوئي اوسيږي❁ تاسو د ژبې ډير ماهران هم يـئ❁ په تاسو کښې لوئي لوئي شاعران هم موجود دي❁ لوئي لوئي نجوميان او کاهنان هم درکښې موجود دي، زمونږ **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو اُمّي دے چې په دې دنيا کښې يـې د چا نه هيڅ سبق نهٔ دے وئيلے خو په تاسو کښې خو تعليم يافته هم شته، لوئي لوئي تجربه کار هم درکښې موجود دي، که ستاسو دا دعویٰ ده چې

دا کلام محمّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله جوړ کړے دے، نو تاسو هم داسې کلام جوړ کړئ! او زيات نۀ بلکې د دې کلام کريم د مختصر نه مختصر سورت په شان يو سورت جوړ کړئ !

بيا په دې کښې هيڅ پابندي نشته چې دا کار دې يو کس وکړي بلکې تاسو ته مکمل اجازت دے:

| | |
|---|---|
| وَ ادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ﴿۲۳﴾ | تَرجَمه کَنْزُ الْعِرْفان: او د اللّٰه نه سِوا خپل ټول مددګاران هم را اُوبلئ که تاسو رښتيني يئ. |

يعنې تاسو ټول راجمع شئ! ټول شاعران راجمع کړئ! ټول کاهنان، نجوميان راوغواړئ! څوک څوک چې په دې کار کښې خپل مددګاران ګڼئ، ټول راجمع کړئ! که تاسو د دې په شان يو سورت هم جوړ کړو نو وګڼئ چې تاسو رښتيني يئ او

| | |
|---|---|
| فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَ لَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ ۚۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ﴿۲۴﴾ | تَرجَمه کَنْزُ الْعِرْفان: بيا که تاسو دا کار اونکړے شئ او تاسو هيڅ کله هم دا کار نه شئ کولے نو د هغه وور نه وه ويريږئ چې د هغې خشاک انسانان او کاڼي دي، هغه د کافرانو د پاره تيار کړے شوے دے. |

يعنې که تاسو ټول په شريکه هم د مختصر نه مختصر سورت په شان يو سورت هم جوړ نۀ کړے شئ او واقعي تاسو دا کار کله هم نۀ شئ کولے نو پوهه شئ چې تاسو دروغژن يئ، زمونږه محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتينے دے، لِهٰذا د هغوئي او د هغوئي طرف ته د نازل شوي دې کلامِ مجيد په مقابله کولو خپل ځانونه د دوزخ حقدار مۀ جوړوئ! ويريږئ! د هُغه وور نه د کوم خشاک يې انسانان او کاڼي دي او هغه د کافِرانو د پاره تيار کړے شوے دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آيتِ کريمه نه د زده کولو خبرې

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د قرآنِ کريم د دې 2 آيتونو نه مونږ ته ډيرې خبرې د زده

کولو د پاره میلاویږي:

## قرآن نعتِ مصطفٰی دے

د ټولو نه وړومبے په دې خبره غور اوکړئ! چې غیر مسلمو ته اعتراض د **اللّٰه** پاک په کلام باندې نۀ وو، هغوئي ته اعتراض د **مُحَمَّدِ** مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په رښتینوالي او صداقت باندې وو، هغوئي دا نۀ وئیل چې **اللّٰه** پاک کِتَاب نۀ شي نازلولے، بلکې هغوئي وئیل چې **اللّٰه** پاک په **مُحَمَّد** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې کلام نۀ دے نازل کړے، هغوئي پخپله جوړ کړے دے، دوئي **(معاذالله!)** دروغ وائي چې دا د **اللّٰه** پاک کلام دے.

غرض دا چې هغوئي ته د خوږ مصطفٰی ﷺ په صداقت باندې اعتراض وو، **اللّٰه** پاک د دې په جواب کښې هم د قرآنِ کریم متعلق چیلنج ارشاد اوفرمائیلو، یعنې ویې فرمائیل: اے غیر مسلمو! که تاسو ته زمونږه د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په صداقت باندې اعتراض وي نو د دې جواب هم زمونږه کلامِ **مجید** دے، تاسو قرآن اولولئ، او د دې په شان کلام جوړ کړئ! که تاسو جوړ نۀ کړے شو نو بیا اومنئ چې زمونږه ښکلے کلام قرآنِ **مجید** د دې خبرې واضِح دلیل دے چې زمونږه محبوب، **مُحَمَّدِ** مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتینے دے.**(1)**

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! مونږه عاشقانِ رسول دا وایو چې ټول مکمل قرآن نعتِ مصطفٰی دے. په دې باندې د نورو ډیرو دلائلو سره سره یو دلیل دا هم دے چې د قرآنِ کریم هر هر آیت، هر هر سورت، د هغې معنٰی که هر څه وي، د هغې مفهوم که هر څه وي، خو چې هغه د قرآن سورت دے نو د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صداقت هُم بیانوي.

## د قرآن په شان بل کتاب نشته

د خلیفه مامُون الرشید د دور خبره ده، یو ځل د خلیفه دربار ته یو یهودي راغلو، هغۀ ډیرې

---

1... تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، البقرہ، زیرِ آیت:23، جلد:1، صفحہ:219-220 ماخوذاً۔

ښې خبرې اوکړې، مامُون الرشيد هغهٔ ته د اسلام قبلولو دعوت ورکړو خو هغهٔ انکار اوکړو. يو کال پس هغه دوباره راغلو، اوس هغهٔ کلمه وئيلې وه او مسلمان شوے وو، هغهٔ کافي عِلمِ دين هم حاصل کړے وو. هغهٔ نه چې تپوس اوشو چې ستا د اسلام قبلولو سبب څه وو؟ نو هغهٔ اووئيل: تير کال چې زهٔ ستاسو د مجلس نه لاړم نو ما د مختلفو مذهبونو د امتحان اخستلو اراده اوکړه. نو ما د تورات، انجيل او قرآنِ کريم 3، 3 نسخې اوليکلې، په کومو کښې چې ما د خپل طرف نه کمے زياتے اوکړو. هغه نسخې ما يهوديانو او عيسائيانو له يوړلې، هغوئي زما نه هغه نسخې واخستلې خو کله چې ما د قرآنِ کريم بدلې کړې نسخې اسلامي کُتُب خانې ته يوړلې نو هغوئي هغه په غور سره اولوستلې، کله چې هغوئي اوليدل چې په دې کښې کمے زياتے شوے دے نو هغوئي د هغو نسخو اخستلو نه انکار اوکړو. په دې وجه په ما باندې د اسلام رښتينوالے واضحه شو او ما کلمه اووئيله او مسلمان شوم.(1)

مُبَدَّل ہوئے انبیا کے صحائف | مُحَرَّف نہ ہو گا صحیفہ تمہارا(2)

وضاحت: په نورو انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام باندې چې کومې صحيفې او کتابونه نازل شوي وو، د هغوئي امتونو د هغې قدر اُونهٔ کړو او تبديليانې يې پکښې وکړې خو اے محبوبِ ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا ستاسو شان دے چې الله کريم په تاسو باندې د نازل شوي کتاب يعني قرآن کريم حفاظت په خپله ذمه کرم اخستے دے، لِهٰذا په تاسو باندې نازل شوي کتاب قرآنِ کريم کښې به کله هم بدلون رانشي.

سُبْحٰنَ الله! دا پاکيزه کلام قرآنِ کريم...!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا مبارک کِتَاب نن د څو څو پيړو [صدو] نه پس هم د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رښتيني نبي کيدلو او د اسلام د رښتيني دين کيدلو واضِحه دليل دے.

---

1... تفسیرِ قرطبی، پارہ:14، الحجر، زیرِ آیت:9، جز:10، جلد:5، صفحہ:5 ملتقطًا۔
2... قبالۂ بخشش، صفحہ:31۔

# ستاسو په وړاندې داسې غلې دي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په کوم دور کښې چې قرآنِ کريم نازل شو، هغه د اَهلِ عربو د فصاحت او بلاغت د عروج زمانه وه، عربو په کلام کښې خپل مهارت باندې ډېر فخر کولو، تر دې چې دوئي به د ځان نه سِوا ټولو قومونو ته عجمي [يعنې ګونګيان] وئيل، يعنې د دوئي دا دعوىٰ وه چې په اصل کښې کلام کول خو مونږ له راځي، نور خو ټول ګونګيان دي، څنګه شاعري چې مونږه کوو، داسې شاعري هيڅوک نۀ شي کولے، په کوم انداز او په کومه طريقه چې مونږ له خبرې کول راځي، داسې د دنيا بل يو ذات هُم کلام نۀ شي کولے. د عربو يو يو ماشوم د لوئي کمال شاعر او په کلام کښې ماهر وو. په تاريخ کښې د هغوئي په کلام کښې د مهارت داسې واقعات دي چې عقل ورته حيرانيږي. يو ځل يو عربي په سفر وو، هغۀ سره دوه ملګري هم وو او هغۀ سره کافي قيمتي سامان وو، په لاره کښې د هغۀ د دواړو ملګرو نيت خراب شو او هغه يې قتل کړو او د هغۀ په قيمتي سامان يې قبضه اوکړه. کله چې هغه کس په مړ کيدو شو نو هغۀ يوه مصرعه اووئيله او ويې وئيل چې دا زما کور والؤ ته واوروئ. چې کله دواړه ملګري د هغۀ کور ته اورسيدل او د هُغه مړ شوي کس د کور والؤ ته يې اووئيل چې ستاسو کس په لاره کښې مړ شو، د هغۀ دا څه سامان دے دا واخلئ او هغه مِصرعه يې هم هغوئي ته واوروله، د هغه مصرعې اوريدل وو چې د هُغه کس لور سمدستي اووئيل چې دا دواړه زما د پلار قاتلان دي، دوئي فوراً اونيسئ. بيا چې کله تحقيق اوشو نو ټول ثبوتونه ميلاو شول او د هغوئي قاتل کيدل ثابت شو.[1] نو اوګورئ! چې هغه کس په کلام کولو کښې څومره ماهر وو او د هغۀ لور په کلام پوهيدلو کښې څومره ماهره وه چې هغۀ څنګه په پټ انداز کښې د خپل قتل ټول داستان په يوه مصرعه کښې بيان کړو او لُور يې په هغې پوهه هم شوه. د کلام داسې ماهرانو ته چيلنج ورکړے شو:

---

[1] ...طبقات الشافعية الكبرىٰ، مقدمة، جلد:1، صفحه:279 خلاصةً۔

فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَۃٍ مِّنۡ مِّثۡلِہٖ ۪ | تَرجَمہ کَنزُالعِرفان: نو تاسو د دې په شان يو سورت راوړئ

خو قربان شم! دا کلام کلامِ اِلٰهي دے، دا پاک کلام بې مثله کتاب دے. اَهلِ عربو 23 کالو پورې د اسلام مقابله کوله، د دينِ اسلام دنيا نه د ختمولو د پاره هغوئي خپل ځانونه او مالونه په داؤ اولګول، جنګونه يې اوکړل، قتل شول، غلامان جوړ کړے شول، هغوئي ډېر څه اوکړل خو د قرآن مقابله يې اُونه کړے شوه. هغوئي ټولو په شريکه د قرآنِ کريم د يو **مختصر** سورت مثلًا د سُوۡرَۃُ الۡکَوۡثَر په شان صرف 3 آيتونه هم جوړ نۀ کړے شول. او څنګه به يې جوړ کړے وے چې دا د **الله** پاک کلام دے، د دې په شان کلام جوړول د چا د وَس کار نه دے.

ترے آگے یوں ہیں دبے لچے فصحاء عرب کے بڑے بڑے
کوئی جانے منہ میں زباں نہیں، نہیں بلکہ جسم میں جاں نہیں

وضاحت: اے ګران **محبوبه** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د مبارکې ژبې نه ادا کيدونکي د **الله** پاک کلام قرآنِ کريم د شان او عظمت په وړاندې د عربو لوئي لوئي شاعران، د فن لوئي لوئي ماهران داسې بے وسه دي، داسې ښکاري چې په خُله کښې يې ژبه نشته، نه...!! نه، بلکې په بدن کښې يې ساه هُم نشته.

## د قرآن په حق کښې ګواهي

داسې نۀ ده چې اَهلِ عربو د قرآنِ کريم د مقابلې کوششونه نۀ دي کړي، هغوئي کوششونه کړي وو خو عاجزه پاتې شول، هر عربي، د لوئي نه لوئي فصيح، د لوئي نه لوئي شاعر، ماهر عربي دان به چې قرآني آيتونه واوريدل نو هم دا به يې وئيل چې دا د کوم انسان کلام نۀ دے.

❁ يو ځل يو اعرابي دا آيت واوريدو:

فَلَمَّا اسۡتَیۡـَٔسُوۡا مِنۡہُ خَلَصُوۡا نَجِیًّا ؕ
(پاره:13،اليوسف:80)

تَرجَمہ کَنزُالعِرفان: بيا ئې چې کله هغه ورونړه مايوسه شول نو جُدا شوَل او په پټوپټو خبرو کښې يې مشوره شروع کړه.

نو هغهٔ اُووئیل: زهٔ ګواهي ورکووم چې یو مخلوق هُم د دې کلام په شان کلام کولو باندې قدرت نهٔ لري.(1)

✿ اِبْنِ مُقَفَّع د تابعینو د زمانې وو، ډېر لوئي ماهر شاعر وو، هغهٔ یو ځل د قرآنِ کریم په مقابله کښې څه لیکل شروع کړل. یوه ورځ هغه د یوې مدرسې په خوا تیریدو، هلته یو ماشوم دا آیتِ کریمه لوستلو:

وَ قِیْلَ یٰۤاَرْضُ ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَ یٰسَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَ غِیْضَ الْمَآءُ وَ قُضِیَ الْاَمْرُ وَ اسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِیِّ وَ قِیْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ۝۴۴ (پارہ:12،ہود:44)

تَرجَمه کَنزُالعِرفان: او حُکم اُوفرمائیلے شو چې اے زمکې خپلې اوبه تیرې کړه [یعنې اوڅښه] او اے آسمانه! اودریږه او اوبه وچې کړے شوې او کار تمام شو او هغه کشتئ په جُودي غر اودریدله او اُوفرمائیلے شُو: د ظالمانو د پاره لرې والے دے

(اِبْنِ مُقَفَّع چې دا آیت واوریدو نو حیران پاتې شو)، سمدستي واپس راغلو او څه یې چې لیکلي وو هغه ټول یې وران کړل او ویې وئیل: زهٔ ګواهي ورکوم چې د دې کِتَاب مقابله نهٔ شي کیدے، دا د انسان کلام نهٔ دے.(2)

✿ یحیٰ بن حکم اَلغَزال چې د دویمې یا دریمې پیړۍ [صدۍ] ډېر لوئي شاعر وو، هغهٔ هم یو ځل د قرآنِ کریم د مقابلې کولو اراده اوکړه. نو هغهٔ اوغوښتل چې د سُورۂ اِخْلَاص په مقابله کښې څه اولیکم، په دې نیت یې چې کله سُورۂ اِخْلَاص شریف اولوستو نو په هغهٔ ویره راغله او توبه یې اوکړه.(3)

---

1...کتاب الشفا بتعریف حقوق المصطفٰی، الباب الرابع، صفحه:199۔
2...شرح الزرقانی، المقصد الرابع فی معجزاته...الخ، جلد:6، صفحه:444 ملتقطًا۔
3...سیرتِ رسولِ عربی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:387 بتغیر قلیل۔

✿ امام محمد بن مسلم نحوي بیانوي: یوه ورځ مونږه د قرآن د اِعجازِ (یعني د قرآنِ کریم د معجزه کیدلو) په باره کښې خبرې کولې، هلته یو فاضل شیخ هم موجود وو، هغهٔ اووئیل: آخر په قرآنِ کریم کښې داسې څه خبره ده چې هیڅوا یــې هم مقابله اُونه کړے شوه، زهٔ به صرف په 3 ورځو کښې د دې په مقابله کښې کلام اولیکم. نو هغهٔ کاغذ، قلم ځان سره واخستل او یو پاسني منزل ته لاړو. د 3 ورځو تیریدلو نه پس چې کله د کوټې دروازه برسیره کړے شوه نو خلقو اولیدل چې د هغهٔ لاس په قلم وچ شوے وو (یعني هغهٔ د 3 ورځو سوچ او فکر کولو باوجود یوه کرښه هم نهٔ وه لیکلې).(1)

✿ حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللہُ عنہ مشهور صحابي رسول دے، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ورور ډیر لوئي شاعر او ماهر عربي دان وو، حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللہُ عنہ فرمائي: یو ځل زما هغه ورور مکې مکرمې ته لاړو، ډیر وخت پس چې کله واپس راغلو نو ما ترینه د حال احوال تپوس کړو نو هغهٔ اووئیل: زهٔ په مکه مکرمه کښې د یو کس سره میلاو شوم، هغه دا دعویٰ کوي چې هغه د **الله** رسول دے. حضرت ابوذر رَضِیَ اللہُ عنہ فرمائي: ما ترینه تپوس وکړو چې خلق د هغهٔ په باره کښې څه وائي؟ ویــې وئیل: خلق وائي چې دا شاعر دے، کاهن دے، جادوګر دے. بیا زما ورور اووئیل: په **الله** پاک مې دې قسم وي! ما د کاهنانو [فالګرو] کلام اوریدلے دے، دا کلام (یعني قرآنِ مجید) د کاهنانو په شان نهٔ دے. ما د دغه کلام د شعر د ټولو قِسمونو سره هُم موازنه وکړه، خو هغه کلام شعر هم نه دے. پهٔ **الله** پاک مې دې قسم وي! هغه رښتینے نبي دے او کافران بې شکه دروغژن دي.

حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللہُ عنہ د خپل ورور د دې خبرو نه متاثره شو، لاړو مکې مکرمې ته اورسیدو او کلمه اُووئیله او اسلام یــې قبول کړو. (2)

---

1... حجۃ اللہ علی العالمین فی معجزات سید المرسلین، الفصل الثانی فی بیان وجوہ اعجازہ، صفحہ: 228 ملتقطًا۔

2... مسلم، کتاب فضائل الصحابہ، باب من فضائل ابی ذر، صفحہ: 962، حدیث: 2473 خلاصۃً۔

قرآن کی شیرینی ہے شیرینئ حقیقی | شیرینئ قرآں کا مزا اور ہی کچھ ہے

یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جومات کښې یواځې تشریف فرما وو، قریشو خپل سردار عُتبه بن ربیعه د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته ولیږو، هغهٔ حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډیرې خبرې اوکړې او په دې خبره یې راضي کول غوښتل چې تاسو د اسلام تبلیغ کول پریږدئ. د هغهٔ د ټولو خبرو په جواب کښې حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف دومره اوکړل چې د سورۀ حٰمٓ اَلسَّجْدَه د یو څو آیتونو تلاوت یې وکړو. دا آیتِ کریمه یې چې واوریدل نو په عُتبه باندې ویره راغله، هغه قریشو له واپس لاړو او ویې وئیل: قسم په خدائے! ما داسې کلام واوریدو چې د هغې په شان کلام مې کله هم نه وو اوریدلے، په **الله** مې دې قسم وي! هغه نهٔ شعر دے، نهٔ جادو دے او نهٔ د کاهنانو په شان کلام دے. (1)

غرض دا چې کفارِ مکه او نورو ټولو غټو غټو شاعرانو او عربي دانو د دې خبرې پخپله ګواهي ورکوله چې دا کلام د کوم انسان نهٔ دے، د دې مقابله کول ممکن نهٔ دي. اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د 14 سوو کالو نه زیاته موده تیره شوه، تر ننه پورې د قرآنِ کریم په مقابله کښې هیچا هم څه اُونه لیکلے شو، نهٔ به تر قیامته پورې څوک داسې اولیکلے شي. ولې؟ ځکه چې قرآن د **الله** پاک کلام دے، یو مخلوق هُم د دې په شان کلام کولو طاقت نهٔ لري.

قرآن جہاں بھر کی کتابوں سے جدا ہے | رتبے میں یہ اک نورِ خدا اور ہی کچھ ہے

## د قرآنِ کریم یو څو اَهَم خصوصیات

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کیدے شي چې د چا په ذهن کښې سوال پیدا کیږي چې آخر په قرآنِ کریم کښې داسې کومه خاص خبره ده چې د قرآنِ کریم په شان بل کلام بیخي

---

1...شرح الزرقانی، المقصد الرابع فی معجزاتہ...الخ، جلد:6، صفحہ:428-429ملتقطاً۔

هیڅوک لیکلے نۀ شي؟ علماءِ کرامو په دې باندې ډیر کلام کړے دے، د قرآنِ کریم په اِعجاز (یعنې معجزه کیدلو) یـې پوره پوره کتابونه لیکلي دي، په هغې کښې یـې د قرآنِ کریم ځُغه خوبیانې په تفصیل سره لیکلي دي کومې چې په بل یو کلام کښې هم نۀ موندلے کیږي. زۀ د هغې نه صرف څو خوبیانې بیانووم:

## په قرآنِ کریم کښې جامعیت دے

قرآنِ کریم ډیر زیات وسیع [فراخه] کلام دے. د دې په یو یو لفظ کښې دومره ژوروالے دے چې په یو څو الفاظو کښې داسې ژورې معنې بیانول، د انسان د وس خبره نۀ ده. علماءِ کرامو په دې باره کښې تر دې پورې لیکلي دي چې د قرآنِ کریم په هر هر آیت کښې 60 زره علوم موجود دي. [(1)]

دا دومره د ژوروالي والا کلام دے چې آیا څوک شته چې په یوه جمله او یو آیت کښې دومره ډیر علوم بیان کړي. یقیناً دا د کوم انسان د وَس خبره نه ده.

## د لفظ اَلۡحَمۡدُ تفسیر

حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما صحابي رسول دے، دوئي ته سُلۡطَانُ الۡمُفَسِّرِیۡن وئیلے کیږي، د قرآنِ کریم ډیر لوئي عالم وو، هغوئي به فرمائیل: که زما د اوښ پړے ورک شي نو زۀ به یـې د قرآنِ کریم نه بیاموځم. [(2)]

اللّٰہُ اکبر! اندازه اوکړئ! هغوئي د قرآنِ کریم څومره پوهه لرونکے وو. [اوس د قرآن مجید د کلام د ژوَر والي یوه بله عظیمه مکالـمه واورئ] حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما فرمائي: یو ځل مونږه د ماسخوتن نمونځ ادا کړو، د نمونځ نه پس د مسلمانانو خلورم خلیفه حضرت

---

1...مرقاۃ المفاتیح، کتاب العلم، الفصل الثانی، جلد:1، صفحہ:453، تحت الحدیث:238۔

2...الاتقان فی علوم القرآن، النوع الخامس والستون، صفحہ:495۔

عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ عنہ ما ته د يواځې ميلاويدو اوفرمائيل، نو زۀ د هغوئي په خِدمت کښې حاضر شوم. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوفرمائيل: اے عبد الله رَضِیَ اللہُ عنہ! د سورۀفاتحه د وړومبي آيت په وړومبۍ جمله اَلْحَمْدُلِلّٰه کښې د لفظِ اَلِفْ څه معنٰی ده؟ ما د لا علمئ اظهار اوکړو نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اَلِفْ تفسير بيانول شروع کړل، يو څو ګينټې څو صرف په دې کښې تيرې شوې. بيا هغوئي د حَرفِ لَام تفسير شروع کړو، په هغې هم يو څو ګينټې تيرې شوې، هُم داسې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اَلْحَمْدُ لله د يو يو حرف تفسير بيانولو، تر دې چې د سحر آذان اوشو. [1]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د قرآنِ کريم عجيبه شان...!! دا دومره د ژوروالي والا کلام دے.

## غير مسلمه کلمه اُووئيله او مسلمان شو

د اسلام د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عنہ دورِ خلافت وو، يوه ورځ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په جومات کښې ملاست وو، (په دې کښې هغوئي يو اواز واوريدو چې) يو کس په اوچت آواز کلمه وئيله. فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هغۀ نه د کلمې وئيلو د سبب تپوس وکړو نو هغۀ اووئيل: زۀ رومي يم، اوس اوس ما د قرآنِ کريم يو آيتِ کريمه واوريدو، چا دا آيت لوستلو:

وَ مَنۡ یُّطِعِ اللّٰہَ وَ رَسُوۡلَہٗ وَ یَخۡشَ اللّٰہَ وَ یَتَّقۡہِ فَاُولٰٓئِکَ ہُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ﴿۵۲﴾ (پاره:18،النور:52)

تَرجَمهٔ کَنزُالعِرفان: او څوک چې د الله او د هغۀ د رسول تابعداري وکړي او د الله نه ويريږي او د هغۀ د (نافرمانئ) نه ويريږي نو هم دا خلق کامياب دي.

ما په دې آيت باندې غور اوکړو نو د دنيا او آخرت هغه ټول اَحوال چې په حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام نازل شوي وو، هغه ټول په دې يو آيت کښې جمع وو. ځکه ما کلمه اووئيله او

---

1...اَلشّرفُ المُؤَبَّد لاٰلِ محمد، المقصد الثانی، ابوالحسنين امير المؤمنين علی ابن ابی طالب، صفحہ:63 خلاصۃً۔

مسلمان شوم. (1)

## قرآن د تاثير نه ډک کلام دے

د قرآنِ کريم يوه اهمه خوبي دا ده چې دا ډير زيات خوندور، خوږ او د تاثير نه ډک کلام دے. دا په طبيعتونو اثر کوي، چې څوک يــې واورې نو زړۀ يــې غواړي چې بس اورمه يــې، چې څوک يــې تلاوت وکړي نو زړۀ يــې غواړي چې نور تلاوت وکړم. د دې په لوستلو يا اوريدلو زړۀ نۀ مړيږي.

تاسو تجربه اوکړئ او اوګورئ! تاسو د خپلې خوښې د يو مصنّف خپل د ټولو نه خوښ کتاب راواخلئ! هغه لوستل شروع کړئ! يو ځل به يــې اولولئ، 2 ځله به يــې اولولئ، زيات نه زيات به يــې 100 ځله ولولئ، آخر به مو زړۀ موړ شي خو قرآن هُغه مبارک کلام دے چې که دا يو ځل ولولې او که زر ځله يــې ولولې، زړۀ پرې نۀ مړيږي بلکې نور د لوستلو خواهش پيدا کيږي. حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عنہ فرمائي چې حضورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: قرآن هُغه [کتاب] دے چې د دې په برکت خواهيشات نه خرابيږي او د دې سره نورې ژبې نۀ مشتبه کيږي، علماء پرې نۀ مړيږي، دا په بيا بيا لوستلو سره نۀ زړيږي او د دې عجائبات نۀ ختميږي. (2)

## د قرآنِ کريم د يو څو حقونو بيان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاک مونږ ته داسې پاکيزه کلام قرآنِ مجيد راکړے دے، يقيناً دا زمونږه د پاره د ډير زيات سعادت خبره ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه!

❁ قرآنِ کريم د هدايت هم دے❁ د رحمت کتاب هم دے❁ د حکمت کتاب هم دے

---

1... کتاب الشفا بتعريف حقوق المصطفٰی، الباب الرابع، فصل فی اعجاز القرآن، صفحہ:200 ملتقطاً۔

2... ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی فضل القرآن، صفحہ:675، حديث:2906 ملتقطاً۔

❀ د دې ډېر زيات خصوصيات دي❀ د دې ډېر زيات برکات دي. اوس غور په دې کول پکار دي چې زمونږه د قرآنِ کريم سره تعلق څنګه دے؟ مونږه د دې قدر څومره کوو.
❀ د قرآنِ کريم په يوه يوه خبره باندې پوخ ايمان لرل❀ کوم څه چې قرآنِ کريم فرمائيلي دي❀ هغه حق او رښتيا منل❀ د دې په مقابله کښې خپل عقل او سوچ نۀ استعمالول
❀ د قرآنِ کريم په مقابله کښې د غير مسلمو په نظرياتو پسې نۀ تلل❀دا د قرآنِ کريم د ټولو نه وړومبے او بنيادي حق دے.
❀ هُم داسې د قرآنِ کريم سره محبت کول❀ د دې ډېر ډېر احترام کول❀ د دې په کثرت سره تلاوت کول❀ په دې پوهيدل، په دې عمل کول، د قرآنِ کريم په حقونو کښې شامل دي. مونږ له پکار دي چې د قرآنِ مجيد د دې حقونو پوره کولو سعادت حاصل کړو.

فِلموں سے ڈِراموں سے دے نفرت تُو الٰہی | بس شوق مجھے نعت وتِلاوت کا خُدا دے

## د تلاوتِ قرآن فضائل

ډېر افسوس ناک صورتِ حال دے چې زمونږه په معاشره کښې خلق په ورو ورو د قرآنِ کريم نه لرې وځي. دا زمونږه د معاشرې لويه پريشاني ده چې مونږه تلاوت نۀ کوو. حالانکه:

❀ مونږ ته د سحر او ماښام، د شپې او ورځې د تلاوتِ قرآن ترغيب راکړے شوے دے
❀ تلاوتِ قرآن افضل عبادت دے [1]
❀ د قرآنِ کريم د يو حرف په لوستلو د 10 نيکو ثواب ميلاويږي[2]
❀ د قرآن په لوستلو رحمت نازليږي، [په تلاوت کوونکي] فرښتې په وزرو سيورے کوي،

1... کنز العمال، کتاب الاذکار، جز:1، جلد:1، صفحہ:257، حدیث:2261۔
2... ترمذی، کتاب فضائل القران، صفحہ:676، حدیث:2910۔

سکينه [يعنې سکون] رانازليږي(1)

❁ څوک چې سحر قرآن ختم کړي نو تر ماښامه پورې او څوک چې يې ماښام ختم کړي نو تر سهاره پورې فرښتې د هغهٔ د پاره د رحمت دعا کوي(2)

❁ په ورځ د قيامت به قرآن د خپلو لوستونکو شفاعت کوي(3)

❁ د قرآن تلاوت کوونکے به قرآن کريم لولي او د جنت په درجو به خيژي(4)

❁ څوک چې په نمونځ کښې په ولاړه د قرآن تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره د هر حرف په بدله کښې 100 نيکئ دي او څوک چې په نمونځ کښې په ناسته تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره د هر حرف په بدله کښې 50 نيکئ دي او څوک چې د نمونځ نه علاوه په اوداسه کښې تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره 25 نيکئ دي او څوک چې د اوداسه نه بغير تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره 10 نيکئ دي.(5)

❁ د قرآن تلاوت کوونکے د اسلام بيراغ [يعنې جنډه] اوچته نيوونکے دے.(6)

❁ د قرآن تلاوت کوونکے د الله پاک خاص بنده دے.(7)

❁ قرآن لوستونکے د عذابِ اِلٰهي نه محفوظه اوسي.(8)

❁ د قرآن تلاوت کوونکے د دې په برکت سره ترقي کوي او غټې درجې حاصلوي.(9)

---

1...مسلم، کتاب الذکر والدعا، صفحه:1039، حديث:2699ماخوذًا۔
2...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:1، جلد:1، صفحه:261، حديث:2316۔
3...مسلم، کتاب صلاة المسافرين، صفحه:290، حديث:804۔
4...ابوداؤد، کتاب:الوتر، صفحه:241، حديث:1464ماخوذًا۔
5...احياء العلوم، کتاب آداب تلاوة، الباب الثاني، جلد:1صفحه:362۔
6...مسندالفردوس، جلد:2، صفحه:135، حديث:2690۔
7...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:1، جلد:1، صفحه:258، حديث:2275۔
8...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:1،، جلد:1، صفحه:258، حديث:2267۔
9...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:1، جلد:1، صفحه:259، حديث:2289۔

داسې ثوابونه، داسې فائدې دي د قرآنِ مجيد د تلاوت کولو، خو مونږه تلاوت نه کوو. مونږ له پکار دي چې مونږه تلاوتِ قرآن په خپلو روزانه معمولاتو کښې شامل کړو، څنګه چې د خوراک نه بغير زمونږه ورځ نۀ تيريږي، هُم داسې تلاوتِ قرآن هم د روحِ غذا ده، د دې نه بغير هم زمونږه ورځ تيريدل نۀ دي پکار.

يهى ہے آرزو تعليم قرآن عام ہو جائے | تلاوت کرنا صبح و شام ميرا کام ہو جائے

## دعوتِ اسلامي او د قرآن خدمت

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک **دعوتِ اسلامي** په ټوله دنيا کښې د فيضانِ قرآن عامولوکے تحريک دے. **دعوتِ اسلامي** مونږ ته قرآن لوستل هم زده کوي، **دعوتِ اسلامي** مونږ ته په قرآن د پوهيدلو ذرائع هم فراهموي او په قرآنِ مجيد د پوهيدلو او په دې د عمل کولو او نورو ته د رسولو موقعې هم راکوي. د مثال په توګه تاسو په قرآنِ مجيد پوهيدل غواړئ نو:

✿ د دعوتِ اسلامي زير انتظام چليدونکې کوم نزدې جامعةُالمدينه کښې داخله واخلئ. دَرسِ نظامي يعنې عالم کورس اوکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! په قرآنِ مجيد پوهيدل به هم نصيب شي، د دې سره سره به د بخاری شریف، مسلم شریف، فتاوٰی شامی، احیاء العلوم، فتاوٰی رضویه شریف وغيره د عِلمِ دين د لويو لويو کتابونو علم پخپله هُم حاصل کړئ او نورو ته زده کوونکې به هُم جوړ شئ.

✿ دَرسِ نظامي يعنې عالم کورس د 8 کالو کورس دے، که تاسو دومره وخت نه شئ ورکولے، مصروفيات مو دي، کورني مسائل مو دي نو هيڅ خبره نۀ ده، په آن لائِن جامعةُالمدينه کښې داخله واخلئ، په کور کښې ناست دَرسِ نظامي وکړئ. ✿ که دا هم درته مشکل ښکاري نو د قرآنِ مجيد ترجمه او تفسير کورس کښې داخله واخلئ. ✿ که دا هم نۀ شئ کولے نو د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةُالمدينه نه اسان ترجمۂ قرآن کنزالعرفان مع تفسیر صراط الجنان او معرفة القرآن واخلئ، په اسانه اُردو کښې په کور کښې ناست د قرآنِ مجيد ترجمه د تفسير سره اولولئ او برکتونه حاصل کړئ. ✿ که تاسو د کتابونو اخستلو د پاره پيسې خرچ کول نه غواړئ نو

په خپل موبائل کښې ***Al Quran With Tafseer*** نومې ایپلي کیشن ډاؤنلوډ کړئ، د قرآنِ کریم تِلاوت وکړئ، ترجمه ولولئ، تفسیر ولولئ، ځان پرې پوهه کړئ، په کوم ځائے چې پوهه نهٔ شئ نو مدني علماء، عاشقانِ رسول مفتیانِ کرام اَلْحَمْدُلِلّٰه موجود دي، د هغوئي نه تپوس وکړئ. ❁ که ستاسو سره موبائل هم نهٔ وي، ایپلي کیشن هم نه شئ ډاؤنلوډ کولے نو بیا هم د پریشانئ خبره نهٔ ده، روزانه 15، 20 منټه ورکړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! عاشقانِ رسول، مبلغینِ دعوتِ اسلامي په جوماتونو کښې د سهار د نمونځ نه پس د تفسیر اوریدلو، اورولو حلقه لګوي، په دې کښې روزانه کم از کم 3 آیتونه د ترجمې او تفسیر سره لوستل کیږي، د روزانې 3 آیتونه یعنې د یو کال 1095 آیتونه، یعنې که مونږه د روزانې د 15 نه تر 20 منټو کوشش وکړو نو په دوه نیم، 3 کالو کښې پوره قرآنِ مجید په اوریدلو، زده کولو او پوهیدلو سره ختمولے شو. بیا کوم څه چې مو زده کړل هغه نورو ته ښنګه رسول دي، د هغې هم ډیره اسانه طریقه ده، عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم د قرآنِ مجید د تعلیماتو، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سنتو د عمل جذبه حاصلولو سره سره به نورو ته د قرآن او سنت د تعلیم رسولو بهترینه موقع درنصیب شي او د دې سره سره که اللّٰه پاک اوغوښتل نو د دین او دنیا بې شمیره ښیګړې به هم حاصلې کړئ.

اللّٰه پاک دې مونږ ته قرآنِ کریم سره د خپل تعلق مضبوطولو توفیق رانصیب کړي.

آمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ماهنامه فیضانِ مدینه ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي آئـي، ټي ډیپارټمنټ یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د هغې نوم دے: ماهنامه فیضانِ مدینه (***Mahnama Faizan e Madina***) په دې ایپلي کیشن کښې تر اوسه پورې

جاري شوې ټولې ماهنامې د **PDF** په صورت کښې موجودې دي، د دې نه علاوه:

❁ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) د ټيکسټ په صورت کښې موجود دي کوم چې کاپي کيدے او شيئر کيدے هُم شي.

❁ د سهولت د پاره سرچ آپشن هم ورکړے شوے دے، چې د هغې په مدد تاسو د ماهنامې کوم مضمون وغيره لټولے هم شي. تاسو هم دا ايپلي کيشن په خپل اسمارټ فون کښې انسټال کړئ او نورو ته هم ترغيب ورکړئ.

د بيان په آخره کښې يوه شرعي مسئله عرض کووم:

## صحيح څه دي؟

(صحيح شرعي مسئله او په عوامو کښې د موجودې غلط فهمئ ښودنه)

**مسئله**: د پيشو ژړا سپيره نۀ وي، نه د دې په وجه څه مصيبت راځي.

**وضاحت**: په [بعضې] عوامو کښې مشهوره ده چې د پيشو ژړا سپيره ده او وائي چې په کومه محله يا کور کښې چې د شپې په وخت پيشو وژاړي هلته ضرور کوم مصيبت راځي يا څوک مړ کيږي. داسې بالکل نۀ ده، نه د دې خبرې کوم پوخ ثبوت شته. د پيشو ژړا سپيره ګڼل يا دا د مصيبت سبب ګڼل يا په داسې خبرو باندې يقين کول بدفالي ده او بد فال اخستل، ناجائزه او ګناه ده. (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسْمَاءُ الحسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَاعَظِيْمُ

څوک چې 7 ځله يَاعَظِيْمُ ولولي او اوبه پرې دم کړي او هغه اوبه اوڅښي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د

1... فتاوی اہلسنت غیر مطبوعہ، ماہنامہ فیضان مدینہ اکتوبر2022۔

هغهٔ په خیټه به درد نهٔ راځي[1]

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل توفیق را کړي. **آمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

1... مدنی پنج سورہ، صفحہ:251۔